مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه ولی ارین ۲۰۲۰/۰۲/۲۲

# ولې مو تر اوسه ژبه بډایه شوې نه ده؟

## (دریمه او وروستۍ برخه)




هر کال د فبرورۍ پر یوویشتمه نیټه د مورنۍ ژبې نړیواله  ورځ لمانځل کېږي .

په دی هکله پوهندوی استاد بهاند د ۲۰۲۰ کال د فبروری د میاشتی په ۱۹ نیټه د افغان جرمن ویب سایټ کې په خپله خپره شوی مقاله کي داسی لیکي:

«هر کال د فبرورۍ پر یوویشتمه د مورنۍ ژبې ورځ لمانځل کېږي. د نړۍ په ګوټ، ګوټ کې هغه خلک چې له خپلې مورنۍ ژبې سره مینه لري او غواړي چې ژبه یې له نوي تکنالوژۍ او د وخت او زمان له غوښتنو سره سم ګام اوچت کړي، لا پسې غني شي؛ دا ورځ په شاندارو مراسمو داسې لمانځي چې په تېر یوه کال کې یې د تخلیق، څېړنې او ژباړې په برخه کې د خپلې ژبې له پاره څه کړي دي او د دې یادونې کېږي چې د دوی ژبه څومره د نوي تکنالوژۍ دا یرې ته ننوتې ده او په عام ډول د خپلو هغو کارونو یادونه کوي چې د خپلې ژبې د غنا له پاره یې کړي دي .

موږ هر یو باید دا پوښتنه له ځان سره مطرح کړو چې:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څېر و لولئ

موږ خپلي مورنۍ ژبي ته څه کړي دي؟»

ربښتيا او سمه خبره خو همدا ده چي د يوې ژبي وده د ژبي د ويونکو له خوا تر سره کيداى شي؛ چي په خواشينۍ سره زموږ يو شمېر ليکوالان له اصلي مسير نه وزي او ځانونه په هغو چارو بوختوي چي ضرورت يي نه ليدل کيږي .

بله ډېره اړينه او اساسي موضوع او ستونزه د هغو افغانانو د ماشومانو ده چي له هيواده بهر ژوند کوى چي ډيرو يي د ميندو پلرونو د نه پاملرنى له امله خپله مورنۍ ژبه له لاسه ورکړې ده، دا ځکه چي مشران ماشومان او حتا مور او پلار هم د نوو کوچنيو ماشومانو سره په خپله مورنۍ ژبه خبرى نه کوى او د هغه هيواد په ژبه خبرى کوى چي دوى په کي ژوند کوى، نو ځکه دا د ميندو پلرونو دنده او مسؤليت دى چي په دى هکله جدى پاملرنه وکړى .
د پښتو ژبي د ودې او پرمختګ د مخنيوي يو بل اساسى لامل د نړى د استعمارى ځواکونو پرله پسي يرغلونه او نيواک و او دى چي زموږ په هيواد کي ټولو مورنۍ ژبو سم او طبعى انکشاف نه بى برخى شوى او په خاص ډول د پښتو ژبي ډېر زيانمن کيدل د يادونى وړ ګڼم.

همدا علت دى چي استعمارى قوتونو زموږ په هيواد کي د تل له پاره د اکثريت يانى پښتنو د سياسى، کلتورى او فرهنګى
تکامل مخنيوى کړى او پښتنى ميشته سيمى د دوى د جنګ او يرغل ميدان ګرزيدلى دى .

په تېرو دوو لسيزو کي په نړۍ د شته ژبو له لست څخه ۲۵۰ ژبي له منځه تللي دي. د دې خو هيڅ امکان نشته چي پښتو ژبه دي هم له دې لست څخه پاکه شي، خو د دې ژبي د ترقي او پر مختګ له پاره هلې ځلې حتمى او اړيني دى .

سره له دى چي نن سبا نړى د ګلوبلايزېشن له مخې د کلي حثيت غوره کړى او هڅه کېږي، چي د ډېرو پديدو پولي راماتي شي او ولس سره نور هم نږدې شي، په يو بل ورډېري او يو بل ته د خپلو دردونو او خوښيو اظهار وکړي. دا هم سمه ده، چي انګليسي او نورې ژبې د تجارت او تعليم په سکټورونو کي د اسانتيا لپاره کارېږي، خو موږ بايد خپله ژبه هېره نه کړو او له نورو هغو مخکي لوړيتوب خپلي ژبي ته ورکړو، ليکل پرې وکړو او د نورو ژبو له سيالۍ سره يي برابره کړو.تر ټولو اړينه دا ده چي خپله ژبه ګوګل او کمپوټيرشموله کړو .

دا ښه ده، چي انسان د نورو ټولنو ژبي زده کړي او پر هغو رواني خبرې او ليک وکړاى شي، ځکه چي دا د نورو سيمو له خلکو سره د اړيکو د پاللو او د يو بل له فرهنګونو نه په خبرېدلو کي خورا کومک کوي، خو اړينه ده، چي د خپلي پېژنګلوۍ مهم اړخ ياني مورنۍ ژبه هېره نه کړو او په هېڅ صورت دي ته زمينه برابر نه کړو .

د يادولو موضوع دا هم ده، چي موږ بايد په ګوګل ټرانسلېټ کي د پښتو ژبي له داخلېدو سره بسنه ونه کړو، بلکي همدې فرصت نه ځان ته دا ننګ ودروو، چي خپلي ژبي ته کار وکړو، سوداګريزه يي کړو او په دې برخه کي مسلکي کسانو نه د مسلکي اثارو د ليکلو او ژباړلو غوښتني وکړو.

پاى


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ